# دعوتِ اسلامي
# او د معاشرې اِصلاح

01-September-2022



هفته‌واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

په وړومبي ستمبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# دعوتِ اسلامي او د معاشرې اِصلاح

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... شرارت کوونکے ځلمے څنګه په سمه لار روان شو...؟
- ... د معاشرې اِصلاح د دين بنيادي مقصد دے
- ... دعوتِ اسلامي او عشقِ رسول ته وده ورکول
- ... دعوتِ اسلامي او عِلمِ دين ته وده ورکول

## پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِىَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ شريف فضيلت

د مسلمانانو ورومبي خليفه، اميرُ المؤمنين حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ارشاد اوفرمائيلو: په نبئ پاک، صاحبِ لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک لوستل ګناهونه دومره زر ورانوي چې اوبه هم داسې زر اور نه مړ کوي او په هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې سلام ليږل د غلام آزادولو نه افضل کار دے. (1)

تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے　　سَو درودیں فدا، ہزار سلام
وہ سلامت رہا قیامت میں　　پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديث شريف کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته

---

1...تاريخِ بغداد، جلد:7، صفحه:172، رقم:3706۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:171170۔

بوځي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❁ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❁ ښه په توجو به بيان اورم ❁ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## شرارت کوونکے ځلمے څنګه په سمه لار روان شو...؟

د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د اولنو ورځو خبره ده چې، يو ځل **شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په يو ځائے کښې بيان اوکړو او د هغه ځائے نه ئې پيدل واپس تشريف راوړلو، د شپې ډير ناوخته وو، 2 اسلامي ورونړه هم د هغوئي سره وو، په لاره کښې په يو ځائے کښې په فُټ پاتھ باندې يو څو ځلمي ناست وو او په ګپ شپ کښې مشغول وو، د هغوئي ظاهري حُليې دا ښودله چې دا څوک شريف خلق نه دي. چې کله اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د هغوئي په خوا تيريدلو نو په هغوئي کښې يو ځلمي ته د شرارت کولو خيال په ذهن کښې راغلے، هغه د پان يو پيک د هغوئي په جامو اوتوکلو، جامې ئې خرابې شوې.

1...مسندِ فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

دا غير اخلاقي حرکت اګرچه سخت غصې راوستو والا وو خو يو مبلغ په هر ځائے کښې په هر حال کښې هم مبلغ وي، هغوئي د خپل نفس په خاطِر غصه نه کوي بلکه په نرمئ او حکمتِ عملئ سره د نيکئ دعوت عام کوي. شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هم دغه شان اوکړه، هغوئي د هغه شرارت کوونکي ځلمي خوا له تشريف يوړلو، سلام ئې اوکړو او ډير په نرمئ سره ئې اوفرمائيل: خوږه وروره! په ما باندې د پان راتوکلو سره تا ته څه ميلاؤ شو؟ شرارت کوونکي ځلمي د خندا په لهجه کښې اووئيل: بس مونږ له د موليانو تنګول خوند راکوي. د دې اوريدو سره اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ خپله لمن خوره کړه او په سنجيدګئ سره ئې اوفرمائيل: که چرې ستاسو زړه په دې خوشحاليږي نو واخلئ! نور پان پرې هم اوتوکئ!

د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د نرمئ او د داسې شفقت نه د ډکې لهجې ليدلو سره د هغه شرارت کوونکو ځلمو سرونه د شرم نه ښکته شول، اوس هغوئي پوهه شو چې زمونږ نه غلطې شوې ده، نو هغوئي معافي اوغوښتله، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ مُسکے شو او اوئې فرمائيل: داسې به معافي نه ميلاويږي، دې د پاره به تاسو ته زما سره چائے څکل وي.

اللّٰهُ اکبر! يو طرفته په بد اخلاقئ سره وړاندې راتلونکي شرارت کوونکي ځلمي او بل طرفته د با عَمَله مبلغ داسې نوازشات...!! داسې څوک دي چې د هغوئي زړه به په داسې شفقت باندې نه متاثره کيږي. هغه ځلمي د عطا ګانو د راوريدو ليدلو سره ډير متاثره شول، هغوئي د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د چائے څکلو دعوت قبول کړو،

د چائے څکلو په وخت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هغوئي ته د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو، هغه ځلمي خو د مخکښې نه متاثره شوي وو، نو ځکه هغوئي د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دعوت قبول کړو او د دعوتِ اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو د پاره تيار شول. چې کله هغه ځلمي هفته وارې اجتماع ته راورسيدل نو د دې ليدلو سره د هغوئي سترګې غړيدلې پاتې شوې چې هغوئي چې څوک د عام شان ګس ګڼړلو سره تنګ کړے وو، هغوئي د زرګونو خلقو په اجتماع کښې بيان کوي او اجتماع کښې شرکت کوونکي په ډيرې توجو او عقيدت سره بيان اوري. دغه ځلمو په خوا کښې ناست د يو اسلامي ورور نه پوښتنه اوکړه: دا بيان کوونکے مبلغ څوک دے؟ اوئې وئيل: دا **حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دے. دې اوريدو سره هغه ځلمي نور هم متاثره شول، د بيان نه پس چې اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په زړه پورې دعا اوکړه نو ځلمو هم په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! يواځې پخپله په نيک کارونو کښې مصروفه نه شول بلکه نورو ته د نيکۍ دعوت ورکوونکي هم جوړ شول. (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

الله پاک دې په شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ باندې کروړونه رحمونه نازل کړي، هغوئي له دې الله پاک ډير ژوند ورکړي. دا د اميرِ اهلِسُنَّت

---

1...ہیرَوئنچی کی توبہ، صفحہ:96ملخصاً۔

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دانائيۍ، د هغوئي د استقامت، د هغوئي د عاجزۍ او د معاشرې د اصلاح درد دے چې هغوئي د هغه شرارت کوونکو ځلمو سره جګړا هم اونکړله، چې شرارت کوونکي ځلمي په هغوئي باندې د پان پيک اوتوکلو نو هغوئي غصه هم اونکړله بلکه د موقعې په نزاکت پوهه شولو او د حکمتِ عملۍ د کمال سره ئې هغوئي ته د نيکۍ دعوت ورکړو، په هغوئي پورې د خندا کولو په بدل کښې ئې په هغوئي د محبّت او شفقت ګلونه اوشيندل او د معاشرې بے لارې شوي ځلمي ئې يواځې په لار نکړل بلکه د نيکۍ دعوت عام کولو او د بدۍ نه د منع کولو والا مبلغين ئې هم جوړ کړل.

| | |
|---|---|
| چور ڈاکو آندے نے، نمازی بن جاندے نے | عاشق لندن پیرس دے حاجی بن جاندے نے |
| مِٹھا مرشد ویکھو تقدیراں اے سنواردا | میرا پیر، میرا پیر، میرا پیر، میرا پیر، میرا پیر |

## پوهه ئې کړئ! چې پوهه کول فائده ورکوي

اے عاشقانِ رَسُول! د موقعې په نزاکت د ځان پوهه کولو سره که چرې په حکمتِ عملۍ او مينه او محبت سره پوهه کړے شي، د نيکۍ دعوت ورکړے شي نو د هغې واقعي ده چې اثر کيږي، په 27 سيپاره، سورۀ ذاريات، 55 نمبر آيت کښې الله رَبُّ العالَمِين فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ (۵۵)<br>(پاره:27،سورۀ ذاريات:55) | ترجمۀ کنزُ الايمان: او پوهه کوئ ئې چې پوهه کول مسلمانانو له فائده ورکوي. |

علّامه محمود آلوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيتِ کريمه معنیٰ بيانوي او فرمائي چې: اے

محبوبه (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! **هميشه** وَعظ او نصيحت کوئ چې بے شکه وعظ او نصيحت د ايمان والوو بصيرت زياتوي او په ايمان او يقين کښې اِضافه کوي. [(1)]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې د نيکئ دعوت ورکول په يو وخت کښې هم نه دي پريښودل پکار، چې حالات هر څنګه وي، بنده دې د نيکئ دعوت ورکوي، د بدئ نه دې منع کوي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دې به فائده وي، نقصان پکښې نشته.

په **تفسيرِ صراطُ الجنان** کښې دي: د نيکئ د دعوت ورکولو يوه فائده دا ده چې څوک چې پوهه کړے شي، د هغه په باره کښې طمع وي چې هغه به بد کارونه پريږدي او نيک کارونه به شروع کړي، دويمه فائده دا ده چې د نيکئ د دعوت ورکولو او د بدئ نه د منع کولو ذِمه واري پوره کيږي. [(2)]

د امام فخر الدِّين رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان خُلاصه ده چې: کافِران هم پوهه کوئ! ممکنه ده چې د نيکئ د دعوت په برکت سره هغوئي ايمان راوړي، داسې به هغوئي ته هم فائده اورسي، او که چرې هغوئي ايمان را نه وړي، بيا هم فائده ده چې د نيکئ د دعوت ورکولو ثواب به نصيب شي. [(3)]

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں | تُو کر ایسا جذبہ عطا یا الٰہی!

1...تفسير روح المعانی، پاره:27، سورۂ ذاريات، تحت الآية:55، جز:27، جلد:14، صفحه:30۔

2...تفسير صراط الجنان، پاره:27، سورۂ ذاريات، تحت الآية:55، جلد:9، صفحه:510۔

3...تفسير کبير، پاره:27، سورۂ ذاريات، تحت الآية:55، جلد:10، صفحه:191بتغير قليل۔

## جَنَّتُ الفردوس د چا د پاره دے؟

حضرت کعب الاحبار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې: جَنَّتُ الفردوس خاص د هغه کَس د پاره دے څوک چې د نيکۍ حکم کوي او د بدۍ نه منع کوي.(1)

## د معاشرې اِصلاح د دين بنيادي مقصد دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د معاشرې اِصلاح د دين د اهم او بنيادي مقصدونو نه ډير اهم مقصد دے. په 13 سيپاره، سورۀ ابراهيم، آيت نمبر: 1 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| الٓرٰ ۟ کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۬ۙ (پارہ:13، سورۂ ابراہیم:1) | **ترجمۀ کنزُ الايمان:** يو کتاب دے چې مونږه ستاسو په لور نازل کړو چې تاسو د تيروو نه رنړا ته راولې. |

معلومه شوه چې د قرآنِ کريم د نازليدو يو اهم مقصد دا هم دے چې د دې په ذريعه د معاشرې خلق د تيروو نه راويستلے شي او نور او رنړا ته راوستے شي. څوک چې د کُفر په تيروو کښې ډغرې وهي، هغوئي د ايمان په لور راوستے شي ❀ څوک چې د ګناهونو په تيروو کښې دي، هغوئي د نيکۍ د نور په لور راوستے شي ❀ څوک چې د جهالت په تيروو کښې دي، هغوئي د عِلمِ دين په نور بنائسته کړے شي ❀ څوک چې د بد اِخلاقۍ او د بد کردار په تيروو کښې دي، هغوئي د اعلیٰ اخلاقو او کردار د نور په لور راوستے شي ❀ څوک چې د نفس په خواهشونو پسې روان دي، هغوئي د اطاعت

1...تَنْبِیْهُ الْمُغْتَرِّیْن، صفحه:201۔

او عبادت د نور په لور راوستے شي ❁ خوک چې د دنيا د محبت او د مال د حِرص په تيروو کښې دي، هغوئي د آخرت د فِکر په نور ښائسته کړے شي، غرض! د معاشرې هر ګس چې په هر قسمه تياره کښې دے، هغه د تيرې نه راويستل او نور او رنړا ورکول دا د قرآنِ پاک د نازليدو اهم او بنيادي مقصد دے. (1)

## دعوتِ اِسلامي او د معاشرې اِصلاح

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اوسنے وخت قيامت ته نزدې وخت دے، د قيامت ډيرې زياتې نخښې پوره کيږي، هر طرفته فتنې سرونه راپورته کوي، زړورتيا زياتيږي، د ګناهونو سيلاب په موجونو دے، په داسې حالاتو کښې دعوتِ اسلامي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د نور يوه شغله ده، دعوتِ اسلامي د فتنو نه په دې ډک وخت کښې رنړاګانې تقسيموي، دعوتِ اسلامي د نيکئ دعوت عام کوي، د بدو نه منع کوي، دعوتِ اسلامي کافرانو ته د اسلام دعوت ورکوي، ګنهګاران مسلمانان د نيکۍ د لارې مسافر جوړوي، دعوتِ اسلامي د جهالت تيرې لرې کوي، د عِلمِ دين نور تقسيموي او د الله پاک په فضل سره په معاشره کښې د راپورته کيدونکو بدو کارونو مخې ته بند تړي. په معاشره کښې د خرابئ هغه کوم يو اړخ دے، د کوم د سمولو کوشش چې دعوتِ اسلامي نه کوي؟ د ژوند هغه کومه يوه شعبه ده، چرته چې دعوتِ اسلامي د نيکئ دعوت نه عام کوي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په هر لور ده، د ژوند په هره شعبه کښې ده، د مالداره نه واخله تر مزدوره پورې، د وکيلانو او ججانو نه واخله تر د ملزمانو پورې، د پوليس نه واخله تر

---

1...تفسير خازن، پاره:13، سورۂ ابراهيم، تحت الآية:1، جلد:3، صفحه:27 ماخوذاً۔

مجرمه پورې، د سوداګرو د کارخانو نه واخله تر پرچون مارکيټه پورې، د وړوکي نه تر غټه پورې، د غټ نه واخله تر وړوکي پورې د الله پاک په فضل سره دعوتِ اسلامي په کمو او زياتو هره يوه شعبه کښې د نيکۍ دعوت عام کوي او په رنړائيۍ خپرولو کښې مصروفه ده.

## په تباه شوي ژوند کښې سپرلے څنګه راغلے...؟؟

د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده، هغه وائي چې: زه به د غلطو ملګرو سره کښيناستم، د هغوئي سره د ناستې په وجه په شروع کښې زما د سيګرټ څکلو عادت جوړ شو، بيا په مزه مزه د چرسو او پوډرو په شان د مهلکه نشو کولو عادت مې جوړ شو، آه! زه تر 16 کالو پورې د نشو عادت ووم، زه د کور نه اويستلے شوم، زه به په فټ پاتھ سملاستم، د ډيران نه به مې د خوراک څيزونه راخيستل يا به مې د خلقو نه غوښتل او خوړل به مې، کيدے شي چې ستاسو يقين رانشي، ما په يوه جوړه جامو کښې 16 کاله تير کړل. زما حالت د ليونو په شان شوے وو، خلقو به زما نه کرَکه کوله، څوک به مې په خوا هم نه تيريدل.

بيا زما په تباه شوي ژوند کښې سپرلے راغلے، زما په خيال شبِ براءَت وو، زه بد نصيبه د يوې کوڅې په کوټ کښې په ډيران ملاست ووم، ناڅاپه مې يو آواز غوږو شو، چا ډير په ښکلي انداز کښې ماته سلام اوکړو، زه ډير حيران شوم چې زما سره د چا څه کار پيښيدے شي؟ چې سترګې برسيره شوې نو 2 اسلامي ورونړه زما مخې ته ولاړ دي، په مخونو ئې ګيرې دي، په سر ئې د عمامو (پټکو) شريفو تاج په سر دے، هغوئي دواړه

رامخې ته شول، ډېر په زړه خوښئ سره ئې اوونيل: تاسو ته څه عرض کول دي. زه په ژوند کښې په وړومبي ځل چا په دومره محبت سره مخاطب کړے ووم، اسلامي وروڼړو زما نه زما د نوم پوښتنه اوکړه، بيا ئې ماته د شبِ براءَت د اهميت په باره کښې اوونيل، زه د هغوئي د شفقت نه په ډک انداز د خبرو کولو نه د مخکښې نه متاثره شوے ووم، نور چې مې ترې د شبِ براءَت عظمت واوريدو نو ضمير ته احساس اوشو چې نن شپه رَبِّ کائنات غټ غټ ګنهګاران بخښي خو آه! نشه کوونکے بد نصيبه په دې شپه هم د بخښنې نه محرومه وي، دې سوچ کولو سره دې فِکر کښې زه ډېر حيران شوم، د هغه اسلامي وروڼړو محنت رنګ راوړو او زه د هغوئي سره د جُمات په لور روان شوم، ما غُسل اوکړو، جامې مې بدلې کړې، آه! نن زه 16 کاله پس جُمات ته ننوتلم، ما چې کله د لمانځه نيت اوکړو نو په ما باندې غونے ځيګ ځيګ شو، زما د سترګو نه اوښکې بهيدلې، ما تر ډېره وخته پورې خپل ګناهونه يادول او ژړل مې، د الله پاک نه مې معافي غوښتله. په اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ باندې او په دعوتِ اسلامي باندې دې د رَبِّ کريم کروړونه رحمتونه نازل کړې چې د دوئي په وجه يو تختيدلے غلام د خپل مولیٰ په بارګاه کښې حاضِر شو. [1]

| | |
|---|---|
| آ جاؤ گنہگارو! بدکارو! سیہ کارو! | بے شک رہِ جنّت ہے دعوتِ اسلامی |
| اسلام کی دعوت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | اور داعیِ سنّت ہے ، یہ دعوتِ اسلامی |

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! دا ده ستاسو دعوتِ اسلامي...!! د چا نه چې د بيزاره کيدو سره خپل کور والا (هغه) د کور نه ويستلو، خلقو به ترې کرَکه کوله، د معاشرې

1...بِیڑ وئینچی کی توبہ، صفحہ: 1211 ملخصاً۔

هغه ګس د چا په ژوند کښې چې ځلورو واړو اړخونو ته صرف تياره وه، دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول د هغه سره شفقت اوکړو، د هغه په ژوند کښې هم رنړائي راغله او د 16 کالو نه د ګناهونو په تيروو کښې ډوب ګس، د توبې په نور مُنَوَّر شو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي هم دغه کار دے، په اوسني وخت کښې چې ورور د ورور ګريوان نيسي، دعوتِ اسلامي د محبت ګلونه تقسيموي، په اوسني وخت کښې اَولاد د بوډاګانو مور پلار نه تنګ وي او د اولډ هاؤس (***Old House***) لاره ګوري، دعوتِ اسلامي په دې دور کښې د مور پلار د قدمونو ښکلول ښائي، د نن په دې مشيني دور کښې چې خلق مشيني ترقي هر څه ګنړي، د اخلاقو نه پريوتل ورځ په ورځ زياتيږي، په دې دور کښې وړو ته ادب ستاسو دعوتِ اسلامي ښائي، لويو ته د شفقت سبق ستاسو دعوتِ اسلامي ورکوي، د ګاؤنډي حقونه دعوتِ اسلامي ښائي، د دوستئ آداب دعوتِ اسلامي ښائي، د اخلاقو او د کردار د بهترئ کوششونه دعوتِ اسلامي کوي او د الله پاک په فضل سره د رَبِّ کريم هيرونکي انسانان د ژوند د مقصد نه خبروي او د رَبِّ کائنات په بارګاه کښې اودرول دا هم ستاسو د دعوتِ اسلامي کارنامه ده.

## مثالي معاشره او دعوتِ اسلامي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يوې مِثالي معاشرې ته چې د کومو څيزونو ضرورت وي يا داسې اووائيئ چې يوه حقيقي اسلامي معاشره چې په کومو بنيادونو ولاړه وي، د هغه بنيادونو په اعتبار سره که چرې غور اوکړئ نو په هغه ټولو کښې اهم بنياد عشقِ رسول دے.

## د اسلامي معاشرې وړومبې بنياد: عشقِ رسول

د عشقِ رسول نه بغير د مسلمان ايمان هم پوره نه وي، نو د پوره معاشرې اِصلاح څنګه کيدے شي. الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلۡ اِنۡ کَانَ اٰبَآؤُکُمۡ وَ اَبۡنَآؤُکُمۡ وَ اِخۡوَانُکُمۡ وَ اَزۡوَاجُکُمۡ وَ عَشِیۡرَتُکُمۡ وَ اَمۡوَالُۨ اقۡتَرَفۡتُمُوۡهَا وَ تِجَارَۃٌ تَخۡشَوۡنَ کَسَادَهَا وَ مَسٰکِنُ تَرۡضَوۡنَهَاۤ اَحَبَّ اِلَیۡکُمۡ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوۡلِهٖ وَ جِهَادٍ فِیۡ سَبِیۡلِهٖ فَتَرَبَّصُوۡا حَتّٰی یَاۡتِیَ اللّٰهُ بِاَمۡرِهٖ ؕ (پاره: 10، سورۀ توبه: 24) | **ترجمۀ کنزُ الایمان:** تاسو اوفرمائيئ که چرې ستاسو پلاران او ستاسو ځامن او ستاسو ورونړه او ستاسو ښځې او ستاسو خاندان او ستاسو د ګټلو د مال او هغه سودا د کومې د نقصان چې ستاسو سره ويره ده او ستاسو د خوښې کور دا څيزونه د الله او د هغه د رسول او د هغه په لاره کښې د جنګ کولو نه زيات خوښ وي نو لارې ته ګورئ (انتظار کوئ) تر دې پورې چې الله خپل حکم راوړي. |

اعلیٰ حضرت امامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د دې آيت نه معلومه شوه چې د چا په دنيا کښې څوک عزّت داره، څوک خپل، څه مال، څه څيز د الله او د رسول نه زيات خوښ وي، هغه د الله پاک په بارګاه کښې د ټولو نه زيات مردود (رټلے شوے) دے، الله پاک به هغه ته خپل اړخ ته لاره نه ورکوي، هغه ته د الله پاک د

عذاب انتظار کول پکار دي.[1]

د الله پاک د محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادِ پاک دے چې: په تاسو کښې به څوک تر هغه وخته پورې (پوره) مسلمان نه وي، تر څو پورې چې زه هغه ته د هغه د مور، پلار، اولاد او د ټولو خلقو نه زيات ګران (خوښ) نه شم.[2]

محمد (صلی اللہ علیہ وسلم) کی محبّت دینِ حق کی شرطِ اوّل ہے | اسی میں ہو اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے

يو شاعِر وئيلي وو:

قوموں کے لئے موت ہے مرکز سے جُدائی

چې ښاخ کله د ونې نه راماتٙ شي او راپريوځي نو هغه ميوه نه کوي، هغه تر زيات وخته پورې شين نشي پاتې کيدے، ډير زر وَچيږي، بيا هغه په اور پسې کولے شي، دغه شان چې قوم کله د خپل مرکز نه بيل شي نو د زياتې مودې پورې ژوندے نه شي پاتې کيدے، ډير زر تباه او بربادېږي.

زمونږ د مسلمانانو مرکز څه دے؟ زمونږه مرکز رسولِ خدا، امامُ الأَنبياء، احمدِ مجتبیٰ، محمد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، ځکه چې تر څو پورې مسلمان د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذريعه د خپل مرکز سره مضبوط اونه تړلے شي، تر هغه وخته پورې نه د معاشرې اِصلاح کيدے شي او نه معاشره د ترقۍ په لور پر مختګ کولے شي.

---

1...تمہید الایمان، صفحہ:55۔

2...بخاری، کتاب بدء الایمان، باب حب الرسول من الایمان، صفحہ:74، حدیث:15۔

## دعوتِ اسلامي او عشقِ رسول ته وده ورکول

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! ستاسو دعوتِ اسلامي د عشقِ رسول ډيوه روښانه کوي، **شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ پخپله هم ډير غټ عاشقِ رسول دے او هغوئي د کروړونو خلقو په زړونو کښې د عشقِ رسول ډيوه روښانه کړې ده.

او د الله پاک په فضل سره دعوتِ اسلامي صِرف د عشقِ رسول چغه نه وهي، دعوتِ اسلامي با عمله عاشقِ رسول جوړوي. څومره داسې دي څوک چې د رسول د مينې ډک دي خو لمونځونه هم پوره نه ادا کوي، دعوتِ اسلامي عاشقانِ رسول لمونځونه کوونکي عاشقِ رسول جوړوي، په دعوتِ اسلامي کښې به اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! په لکونو نه په کروړونو عاشقِ رسول په نظر راځي د چا د ظاهري حُليې نه چې عشقِ رسول ښکاري، څومره داسې ځلمي دي، څوک چې د دنيا په ګنده د ګناهونو نه په ډک مجازي عشق کښې اخته وو، د دعوتِ اسلامي په برکت سره اوس په يادِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې مشغول وي، په لکونو ځلمي دي چا چې به مخکښې د لندن او پيرس خوبونه ليدل، اوس د مدينې په يادونو کښې ورک وي، څومره داسې دي چا چې سندرې او باجې خوښولې، اوس د نعتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوريدو سره اوښکې توئي کوي، څومره داسې وو چې د فيشن د شوق په آفت کښې ګير وو، اوس د هغوئي په مخونو د سُنَّت مطابق ګيره مبارکه ده، په سر ئې د عمامې (يعني پټکي) تاج پروت دے، جامې ئې د سُنَّت مطابق، ويښته ئې د سُنّت مطابق... د سُنّتو داسې ښکاره نمونې به تاسو ته په دعوتِ اسلامي کښې ښکاره په

نظر راځي، دا ده دعوتِ اسلامي كومه چې د عشقِ رسول صرف چغې نه وهي بلكه عاشقانِ رسول با عَمَله عاشقِ رسول جوړوي.

اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سِکھا مَدنی ماحول
تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہیں ہے یہ ہرگز بُرا مَدنی ماحول
تمہیں لُطف آ جائے گا زندگی کا | قریب آکے دیکھو ذرا مَدنی ماحول
نبی کی مَحبّت میں رونے کا انداز | چلے آؤ سِکھلائے گا مَدنی ماحول

## په عشقِ مصطفٰے كښې ئې په زړا زړا سلګۍ شروع شوې

د بهاول نګر (پنجاب، پاكستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: ما د حيدر آباد په يوه كارخانه كښې كار كولو، هلته زما ملاقات د يو اسلامي ورور سره اوشو، هغه ما ته د نيكۍ دعوت راكړو او ورسره ئې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ بيان د **حضرت بلال** رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ **عشق** هم ډالۍ كړو، ما هغه بيان اولګولو، د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د عشقِ رسول نه ډك د ادب نه ډك لفظونه زما په غوږونو ډير خوارِه اولګيدل، څنګه څنګه چې مې بيان اوريدو، **زما په زړه كښې د عشقِ رسول شمع بليدله، د بيان اوريدو په وخت مې سترګې د اوښكو نه ډكې وې او په عشقِ رسول كښې د زړا زړا نه سلګۍ جوړې شوې،** اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! داسې د بيان نه متاثره كيدو سره زه د اميرِ اهلِسُنّت په دربار كښې حاضر شوم، د هغوئې سره مې ملاقات هم اوكړو، عطاري جوړ شوم، ګيره مباركه مې هم پريښوده او په سر مې د عمامې (پټكې) تاج هم

کيښودو. [1]

گنہگارو آؤ! سِیَہ کارو آؤ! | گُناہوں کو دے گا چُھڑا مدنی ماحول
پِلا کر مئے عشق دیگا بنا یہ | تمہیں عاشقِ مصطفٰے مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د درود او سلام عاشقه

د کراچۍ د علاقې رنچهوړ لائن د يو اسلامي ورور بيان دے: زما خور غالباً په کال 1994ء کښې د شيخِ طريقتِ، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه بيعت کړے وو او عطّاريه جوړه شوې وه، هغه وخت د هغې په ژوند کښې مدني انقلاب راغلے وو، هغه پينځه وخته لمونځ کوونکې جوړه شوه، چې کله هغې ته پته اولګيده چې پير او مرشد د فلمونو نه او ډرامو نه ډير نفرت کوي، د هغه کال نه زما خور فلمونه او ډرامې وغيره پريښودې، يو کال پس زما د خور طبيعت خراب شو، علاج مو ورله اوکړو خو حالت به ئې نور هم خرابيدو، د بيمارۍ په وجه باندې زما خور کمزورې شوې وه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې باوجود د هغې په زړه کښې د عشقِ رسول پاکې جذبې مضبوطې وې، زما خور به ډير زيات درود او سلام لوستلو، د جمعې په ورځ چې به کله د عاشقانِ رسول د جماتونو نه د

مصطفٰے جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام

آوازونه راتلل نو په هغې به ډير ښه لګيدل، د ډير تکليف باوجود به د کړکۍ په

1...فِلمی اداکار کی توبہ (حصہ:3)، 108 ملخصاً۔

سهارې سره د پردې د احتياط سره په ادب سره اودريدله او د صلوٰۃ او سلام په آوازونو کښې به ورکه شوه، د هغې د سترګو نه به اوښکې رواني وې، ډير ځل به ئې ژړا په سلګو کښې بدله شوه، تر څو پورې چې به د صلوٰۃ او سلام آوازونه راتلل، زما خور به هم هغه شان په ادب سره ولاړه وه. (1)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ده ستاسو دعوتِ اسلامي...!! د عشقِ رسول د کيفياتو نه ډک په زرګونو عاشقانِ رسول به درته اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په دعوتِ اسلامي کښې ميلاؤ شي. الله پاک دې د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول په برکت سره په مونږه باندې هم کرم اوکړي، کاش! چې مونږ ته هم د عشقِ رسول دولت نصيب شي، چې مونږه په رښتوني او عمل کوونکي عاشقِ رسول جوړيدو کښې کامياب شو.

| | |
|---|---|
| مُطِيع اپنا مجھ کو بنا ياالٰہی! | سدا سُنّتوں پر چلا ياالٰہی! |
| غمِ مصطَفٰے دے غمِ مصطَفٰے دے | ہو دَردِ مدينہ عطا ياالٰہی! |
| ميں عشقِ نبی ميں رہوں گُم ہميشہ | تُو ديوانہ ايسا بنا ياالٰہی! |

## د اسلامي معاشرې دويم بنياد: د الله پاک نه ويره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د يوې حقيقي اسلامي معاشرې دويم او اهم بنياد **د الله پاک نه ويره** ده. تر څو پورې چې په زړونو کښې د الله پاک نه ويره پيدا نه شي، تر هغه وخته پورې د ګناهونو نه بچ کيدل ډير ګران کار دے، څومره داسې خلق دي څوک چې ډير نيک په نظر راځي خو چې کله هغوئي ځانله شي نو په ګناهونو کښې ډوب شي، د

---

1...صلوٰۃو سلام کی عاشِقه. صفحه:21 ملخصاً۔

الله پاک نه ويره هغه عظيم نعمت دے، کوم چې د انسان ظاهر او باطن صحيح کوي، بيا انسان د خلقو په مخکښې هم د ګناهونو نه ځان بچ ساتي او چې ځانله شي چې بيا هم د ګناه په لور ګام نه اخلي.

## د الله پاک نه ويره لګام دے

په **اِحيَاءُ العُلوم** کښې دي: د الله پاک نه ويره د الله پاک او د بنده په مينځ کښې يو لګام دے، کله چې دا لګام مات شي نو بنده هلاکيږي. (1)

علّامه اِبنِ جوزي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د الله پاک نه د ويرې په ذريعه بنده ته پاکي ميلاويږي، تقوىٰ نصيب کيږي، دا د الله پاک نه ويره ده چې د نفس خواهشونه سوزوي او د الله پاک د ويرې په ذريعه انسان الله پاک ته نزدې کيدونکي عملونه کوي. (2)

## دعوتِ اسلامي او د الله پاک نه ويرې ته وده ورکول

اے عاشقانِ رَسُول! په اوسني دور کښې مادِيّت پرستي عامه ده، خلق د عقل نه کار اخلي، په زړونو غفلت خور دے، داسې هم خبرونه دي چې پلار ئې وفات شو، د کور نه بهر د ايصالِ ثواب محفل راجوړ دے او اولاد په کور کښې دننه په فلمونو او ډرامو کتلو کښې مصروفه دے.

الله اکبر! چې داسې حالات وي نو د الله پاک نه د ويرې هډو سوچ هم نشي کيدے خو قربان شم! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي هغه ديني تحريک دے کوم چې په اوسني وخت کښې

---

1...احياء علوم الدين ، كتاب الخوف والرجاء ،بيان فضيلة الخوف و الترغيب فيه ،جلد:4،صفحه:197۔

2...مكاشفة القلوب،صفحه:288بتقدم و تاخر۔

هم قبر رايادوي، د نن په دې ترقي يافته وخت کښې به هم د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې داسې ډير خلق ميلاؤ شي د چا معمولات چې د اَسلافو (يعني د مخکښې تير شوؤ نيکانو خلقو) ياد تازه کوي، هديرو ته تلل، د قبرونو ليدلو سره د الله پاک د ويرې نه ژړل، د جنازې ليدلو سره په زړه کښې ويره راتلل، د شپې پاڅيدو سره د الله پاک د ويرې نه اوښکې توئيول، په ژړا ژړا د الله پاک په دربار کښې توبه کول، دا هغه پاک کيفيات دي کوم چې د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې عام ميلاويږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دا وخت دعوتِ اسلامي شايد چې ځانګړے ديني تحريک دے کوم چې په زړونو کښې د الله پاک نه ويره پيدا کوي.

الله کے ڈر میں، اُلفت میں محمد ﷺ کی | کرواتی زِیادَت ہے یہ دعوتِ اسلامی

## د الله پاک د ويرې نه پرې غونے ځيګ ځيګ شو

د کراچۍ د علاقې کهارا دَر د يو اسلامي ورور بيان دے چې، هغوئي دا خبره کوي چې: زمونږه په علاقه کښې يو ډير بدکرداره انسان اوسيدو، هغه د خپلو حرکتونو په وجه ډير بدنام وو، عام طور به د شرابو په نشه کښې مست اوسيدو، يوه ورځ يو اسلامي ورور هغه ته د دعوتِ اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو، د هغه خوش قسمتي وه چې هغه په اجتماع کښې شريک شو، په اجتماع کښې شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سُنَّتو نه ډک بيان اوکړو، ډير ښکلي بيان د هغه په زړه ډير اثر اوکړو، د هغه د سترګو نه د پښيمانتيا اوښکې رواني شوې، د الله پاک نه د ويرې په سبب هغه په ژړا شو او د بيان نه پس ئې هم تر ډير وخته پورې سم ډير ژړل. بيا هغه

په دغه اجتماع كښې د خپلو مخكښينو ګناهونو نه توبه كړه او د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په لاس ئې بيعت اوكړو او د غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه غلام جوړ شو. (1)

تيری خَشیّت اور ترے ڈر سے، خوف سے | ہر دم ہو دِل یہ کانپتا یا ربِّ مصطفےٰ!(2)

## د مثالي معاشرې دريم بنياد: عِلمِ دِين

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د يوې مثالي اسلامي معاشرې دريم اهم بنياد عِلمِ دِين دے. په قرآنِ كريم كښې الله پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ<br>(پارہ:23، سورۂ زُمر:9) | **ترجمهٔ كنزُ الايمان:** ته ورته اوفرمايا آيا برابر دي پوهيدونكي او نه پوهيدونكي. |

لږ غور اوكړئ! چې يو داسې ښار وي، په كوم كښې چې ټول ړانده وي، د چا نظر پكښې نه لګي، آيا داسې ښار ترقي كولے شي؟ نشي كولے، ترقي كول خو غټه خبره ده، ژوند تيرول به پكښې هم ګران شي. د عِلم او جهالت هم داسې مثال دے . تر څو پورې چې عِلمِ دِين ته وده ورنكړے شي، تر هغه وخته پورې د معاشرې اصلاح كيدل، د يوې معاشرې مثالي جوړيدل ډير ګران كار دے، نن هم د دنيا په نقشه كښې داسې علاقې شته چرته چې عِلمِ دِين بالكل د نشت برابر دے، هم دغه وجه ده چې

1...صلوٰۃ و سلام کی عاشقه، صفحه:76 ملخصاً۔
2...وسائل بخشش، صفحه:132۔

هلته نه تهذيب شته او نه کلتور، نه اَدَب او آداب، نه د نورو خلقو د حقونو خيال ساتل. د دې نه پته اولګيده چې د معاشرې د اِصلاح د پاره عِلمِ دين څومره ضروري دے.

## دعوتِ اسلامي او عِلمِ دِين ته وده ورکول

اوس لږ اوګورئ! دعوتِ اسلامي په کوم کوم انداز کښې په معاشره کښې د عِلمِ دِين خپرولو کوشش کوي: د دعوتِ اسلامي شعبه ده: **مدرسة المدينه** دلته هلکانو او جينکو ماشومانو ته د صحيح تَلفُّظ سره د قرآنِ کريم د حِفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي. ❁ **مدرسة المدينه بالغان و بالغات:** دلته د زيات عمر اسلامي ورونړو او اسلامي خوئيندو ته د صحيح تلفظ سره د قرآنِ پاک تعليم ورکولے شي. ❁ **جامعة المدينه:** دلته هلکانو او جينکو طالب علمانو ته درسِ نظامي (يعني د عالِم او عالِمې کورس) کولے شي او د دين نور علمونه ښودلے شي ❁ **فيضان آن لائن اکيډمي**: په کومه کښې چې د قرآنِ کريم حفظ او ناظره، درسِ نظامي (عالِم کورس، د 30 نه زيات آن لائن کورسز (په اسلامي ورونړو او اسلامي خوئيندو) اوکړے شو او د دين نور علمونه اوښودلے شو ❁ **هفته واره د سُنّتو نه ډکه اجتماع**: د هر زيارت په ورځ د ملک او بهر ملک په مختلفو ښارونو کښې هفته واره اجتماع کيږي، په کومه کښې چې تِلاوت، نعت او د بيان سره سره په آخره کښې د زده کولو او ښودلو حلقې هم لګي، په کومو کښې چې په مختلفو موضوعاتو باندې عِلمِ دين ښودلے شي، هفته واره اجتماع د عِلمِ دين زده کولو او د ظاهري او باطني اصلاح بهترينه ذريعه ده ❁ **هفته واره مدني مذاکره**: شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هره هفته د شپې په مدني چينل نيغ په نيغه مدني

مذاکره کوي (يعني د ټولې دنيا نه د عاشقانِ رسول د پوښتنو جوابونه) ورکوي، د الله پاک په فضل او کرم سره مدني مذاکره د شريعت او طريقت، د عِلمِ ظاهري او عِلمِ باطني زده کولو بهترينه ذريعه ده ❁ د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو کار دے: **دَرس.** عاشقانِ رسول په جماتونو کښې درس ورکوي، د دې نه هم عِلمِ دين عام کيږي، دغه شان په کوڅو، بازارونو، سکولونو، کالجونو وغيره کښې **چوک درس** هم کيږي، هغه خلق څوک چې په جماتونو کښې د حاضرۍ نه محرومه وي يا په بل څه وجه باندې په جمات کښې د درس اوريدو نه محرومه پاتې کيږي، د **چوک درس** په برکت سره هغوئي ته هم عِلمِ دين رسي ❁ د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې د دين يو کار دے: **د تفسير اوريدو او اورولو حلقه**: عاشقانِ رسول د سحر د لمانځه نه پس په جماتونو کښې دا حلقه لګوي، په دې کښې د تفسيرِ **صراط الجنان** نه 2 مخونه د ترجمې او تفسير سره د لوستو او اوريدو ترکيب وي، دَرسِ فيضانِ سُنّت هم وي او اَوراد او وظيفې هم لوستلے شي ❁ **مدني قافله**: د عِلمِ دين زده کولو، نورو ته د رسولو او د ځان او د نورو خلقو د اصلاح د کوشش بهترينه ذريعه ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په ټوله دنيا کښې په لکونو عاشقانِ رسول د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او 12 مياشتو په مدني قافلو کښې سفر کوي، دا خوش قسمته ېخپله هم عِلمِ دين زده کوي او نورو ته ئې هم رسوي ❁ **هفته واره رساله مطالعه**: هره هفته د ټولې دنيا عاشقانِ رسول ته د يوې رسالې لوستو هدف ورکولے شي. وړه او ډيره معلوماتي رساله وي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په ټوله دنيا کښې په لکونو عاشقانِ رسول د دې رسالې د لوستو او آډيو اوريدو سعادت حاصلوي ❁ دغه شان د دعوتِ اسلامي خاص علمي او تحقيقي شعبه ده: **المدينة العلميه (اسلامِک ريسرچ سنټر)**. په دې شعبه کښې مدني

عالمان صاحبان په نوو نوو موضوعاتو باندې ديني کتابونه او رسالې ليکي کومې چې د لوستلو شوق لرونکو حضراتو د علم د تندې ماتولو سبب جوړيږي ❀ داسې د دعوتِ اسلامي يوه شعبه ده: **دارُ السّنَّه**: د ملک دننه او د بهر ملکونو په مختلفو ښارونو کښې دا شعبه جوړه ده، د دې شعبې خاص خبره دا ده چې په دې کښې د وخت هيڅ قيد نشته، څوک چې څومره وخت په آسانئ سره ورکولے شي، **دارُ السُّنه** ته د راتلو او د عِلمِ دين زده کولو سعادت حاصلولے شي ❀ **مدني چينل**: يو برقي مبلغ، کوم چې د الله پاک په فضل باندې کور کور ته د رسيدو او د عِلمِ دين په فيضان عام کولو کښې مصروف دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مدني چينل څه مشهورتيا نه راځي، د ساز او موسيقۍ نه بالکل پاک دے، په 24 ګهنټو کښې چې کله هم تاسو ته موقع ميلاؤ شي، مدني چينل اولګوئ او د علمِ دين د لعلونو نه لمن ډکول شروع کړئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! مدني چينل د دعوتِ اسلامي هغه ممتازه او بے مثاله کارنامه ده، کومې چې په معاشره کښې د زرګونو خلقو ژوند بدل کړے دے، مدني چينل په کور کښې د کښيناستو سره عِلمِ دين ښائي او کورونه د امن نه ډکوي ❀ **سوشل ميډيا**: د کمپيوټر په دې دور کښې ټيکنالوجي خپل عروج ته رسيدلې ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د دې جديد ټيکنالوجئ په ذريعه باندې په عِلمِ دين خپرولو کښې مصروفه ده، په فيس بک (***Facebook***)، انسټا ګرام (***Instragram***)، واټس ايپ (***Whats App***)، ټوئيټر (***Twitter***) او يوټيوب(***Youtube***) وغيره باندې د دعوتِ اسلامي مختلف پيجز جوړ شوي دي، ويب سائټس هم شته، د کومو په ذريعه چې د قرآن او سُنَّت پيغام عام کولے شي، د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ مختلف ايپلي کيشنز جوړوي، مثلاً تفسيرِ صراط الجنان موبائل ايپلي کيشن: د دې په ذريعه قرآنِ

پاک د ترجمې او تفسير سره لوستلے او د قرآنِ پاک په نور باندې خپله سينه روښانه کولے شئ، دغه شان د بهارِ شريعت موبائل ايپلي کيشن په ذريعه ديني مسئلې لوستلے او زده کولے شئ، داسې ډير ايپلي کيشنز دي.

يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Dawateislami Digital Services*** (دعوتِ اسلامي ډيجيټل سروسز)، دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجئ په ذريعه څنګه عِلمِ دين عام کوي، په دې کښې ټول تفصيل او د دعوتِ اسلامي د ټول ايپلي کيشنز پيژندګلو وغيره موجوده ده.

| | |
|---|---|
| اللہ کی نعمت ہے یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عنایت ہے یہ دعوتِ اسلامی |
| اسلام کی تعلیمات اور دین کے احکامات | سِکھلاتی شریعت ہے یہ دعوتِ اسلامی |
| سرکار کی دُکھیاری اُمّت کی ہے خیر اَندیش | اور خادمِ مِلّت ہے یہ دعوتِ اسلامی |

## دعوتِ اسلامي او په جيل خانه جاتو کښې ديني کار

زمونږه د معاشرې يوه طبقه ده، کومې ته چې عموماً ليک لوست کوونکي، مهذبه او شريف خلق سپک ګوري يعني جرمونه کوونکي ګسان. دا هم زمونږه د معاشرې يو دردناک اړخ دے چې يو ګس جرم اوکړي، جيل ته لاړ شي، هلته د نورو مجرمانو په صحبت کښې د پاتې کيدو سره نور جرمونه زده کړي، د اللّٰه پاک په فضل سره د دعوتِ اسلامي دا طبقه هم محرومه پاتې نه کړه، **د دعوتِ اسلامي يوه شعبه ده: اِصلاح برائے قيديان (د قيديانو اِصلاح).** په دې شعبه کښې کار کوونکي عاشقانِ رسول جيلونو ته

ځي او مجرمانو ته هم عِلمِ دين ښائي، هغوئي ته قرآنِ كريم ښائي، سُنَّت او آداب ښائي، داسې ډير مثالونه موجود دي چې يو ګس جرم اوكړو او جيل ته لاړو، هلته د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول په بركت سره ئې عِلمِ دين زده كړو، توبه ئې كړله او نيک لمونځ ګزاره جوړ شو.

| | |
|---|---|
| دعوتِ اسلامی میں ہے بڑھتا عشقِ نبی کا خوفِ خدا کا | بڑھتی ہے نیکی کی رَغبت یومِ دعوتِ اسلامی ہے |
| آؤ! گنہگارو آجاؤ! توبہ کر لو مت گھبراؤ | ہو جائے گی ربّ کی رحمت یومِ دعوتِ اسلامی ہے |

## خطرناک ډاكو څنګه په سمه لار روان شو...؟

د حيدر آباد (اِنټېر سندھ، پاكستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده، هغه وائي چې: مخكښې زه ډير خطرناک ډاكو ووم، په خلقو زما ويره خوره وه، زه تر ټولو ښه جنګيالے ووم او ډيرې پوليس مقابلې مې هم كړې وې، آخر كښې پوليس زه ګير كړم. په جيل كښې د پاتې كيدو سره مې هم د جرمونو نوې نوې منصوبې جوړولې. د راخوشي كيدو نه پس كيدے شي چې بيا د جرمونو په لاره روان شوے وے خو زما خوش قسمتي وه چې ما ته په جيل كښې د دعوتِ اسلامي د شُعبه اِصلاح برائے قيديان د اسلامي ورونړو صحبت نصيب شو. د مبلغِ دعوتِ اسلامي د ځانله كوشش په بركت سره ما د خپلو تيرو ګناهونو نه توبه كړه او د نيک جوړيدو نيت مې اوكړو، هم په جيل كښې ما ته په مدرسه فيضانِ قرآن كښې د پوره قرآن پاک زده كولو موقع ميلاؤ شوه، ما لمونځ كول زده كړل، د دې سره سره مې **6 كلمې، ايمان مفصل، ايمان مجمل** او آخري 10 سورتونه هم په يادو ياد كړل. اوس ما يو نوے ژوند شروع كړے

دے په کوم کښې چې د جرمونو د پاره هيڅ ځائے نشته. ما دې وئيلو ته پريږدئ چې زما په شان جرمونه کوونکے ګنهګار څوک چې د پوليس دردناکه وهلو هم صحيح نه کړو خو د دعوتِ اسلامي ديني ماحول او د اسلامي وروڼړو شفقت زما اوده ضمير راويخ کړو او زما د سمولو لار ئې جوړه کړه. (1)

شہا! ایسا جذبہ پاؤں کہ میں خوب سیکھ جاؤں | تیری سُنّتیں سکھانا مَدَنی مدینے والے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! دا ده ستاسو دعوتِ اسلامي...!! د وړو ماشومانو نه واخله تر د مشرانو پورې، د معاشرې هرې طبقې، هر ګس ته عِلمِ دين رَسَوَل، سُنَّت عام کول د دعوتِ اسلامي مشن دے او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په دې کښې کاميابه هم ده او نور مخ په وړاندې سفر هم روان دے.

راځئ مدني مقصد بيا وايو: **ما ته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

اللہ! کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں | اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو

## د دعوتِ اسلامي يوه ممتازه کارنامه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! زمونږه د معاشرې يو ډير افسوسناک اړخ دے، هغه دا چې زمونږه په معاشره کښې ويونکي ډير دي، کار کوونکي کم دي، دا ټول وائي چې خپله اِصلاح اوکړئ! د ټولې معاشرې اِصلاح به اوشي. لوئي لوئي مفکر، تجزيه

---

1...25 کرسچین قیدیوں اور پادری کا قبولِ اسلام، صفحہ:15، 16۔

نګار، تبصره کوونکي ټول دا وائي خو په سنجيدګئ سره خپلې اِصلاح ته د پام کوونکو شميره بالکل کمه ده بلکه د نشت برابر ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي دا ممتازه کارنامه ده چې دعوتِ اسلامي دا مدني مقصد ورکړے دے چې: **ما ته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي**. لکه د دعوتِ اسلامي کار چې د خپلې اِصلاح نه شروع کيږي. بيا دا هم ده چې دعوتِ اسلامي صرف دا مقصد ورنکړو بلکه خپله اِصلاح ځنګه کول دي؟ د دې طريقه به څه وي؟ دعوتِ اسلامي د دې ټول نظام ورکوي.

الله پاک دې په شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رحمتونه نازِل کړي، هغوئي د ټولې دنيا عاشقانِ رسول ته د **نيک اَعمَال** ډالئ عطا کړه، د اسلامي ورونړو د پاره 72 نيک اعمال، د اسلامي خوئيندو د پاره 63، د مدرسة المدينه د ماشومانو د پاره 40، د جامعة المدينه د طالب علمانو د پاره 92 نيک اَعمال. **نيک اَعمال نومې** يوه رساله ده، په دې کښې مختلف سوالونه ليکلے شي، د هر سوال لاندې خالي خانې وي، هره ورځ په ټاکلے شوي وخت کښې د دغه سوالونو لوستو سره د خپلې ټولې ورځې د عملونو جائزه اخستل او خانې ډَکَول وي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په ټوله دنيا کښې په لکونو عاشقانِ رسول دي څوک چې **نيک اعمال** رساله ډَکَوي او د دې په ذريعه د خپلې جائزې اخستو سره د اصلاح کوشش کوي. د الله پاک په فضل سره په اوسني دور کښې دا د دعوتِ اسلامي ممتازه کارنامه ده چې دعوتِ اسلامي

په لکونو عاشقانِ رسول عملي طور د خپلې اِصلاح فِکر کوونکي جوړ کړل.

میں بن جاؤں سراپا مَدنی اِنعامات کی تصویر | بنوں گا نیک یااللہ اگر رَحمت تِری ہوگی

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مدني انعاماتو ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

## دعوتِ اِسلامي او نيک صحبت ورکول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نيکي کول، نيک جوړيدل ډير اهم کار دے خو د دې نه زيات اهم کار دے د بنده په نيکو باندې ثابت قدم پاتې کيدل، چې په نيکو باندې استقامت حاصِل کړي. د دې د پاره چې د ټولو نه زيات ضروري کوم څيز دے، هغه دے: نيک صحبت. که چرې د نيکو د ذهن ميلاويدو سره سره نيک صحبت هم ميلاؤ شي نو انسان واقعي ده چې په سمه لار روانيدے شي، الله دې نه کړي که چرې نيک صحبت ميلاؤ نه شي نو ډيره ګرانه ده، خراب ملګري انسان بيا خرابوي.

حضرت داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په کَشفُ المَحجُوب کښې فرمائي: يو ګَس د طواف په وخت صرف دا دعا کوله: اَللّٰھُمَّ اَصۡلِحۡ اَخَوَانِی اے الله پاکه! زما دوستان نيک جوړ کړې. چا ترې پوښتنه اوکړه: په دې ځائے کښې ته د ځان د پاره دعا ولې نه کوې؟ صرف د دوستانو د پاره ولې دعا کوې؟ هغه نيک ګَس ډير د کمال جواب ورکړو، اوئې وئيل: د دې ځائے نه ما ته واپس د خپلو ملګرو خوا له تلل دي، که چرې زما دوستان نيکان شول نو ما ته به هم په نيکو باندې استقامات ميلاؤ شي، که چرې

دوستان نيک نه شول نو د هغوئې خرابي به ما ته هم رارسي. ځکه زه د دوستانو د پاره دعا کووم. [(1)]

معلومه شوه چې د نيک جوړيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره نيک صحبت ميلاويدل ډير ضروري دي خو په اوسني وخت کښې چې نيک صحبت ميلاؤ شي، دا ډيره ګرانه خبره ده، د ګناهونو داسې سيلاب راغلے دے چې نيکان خلق په لټولو هم نه ميلاويږي، خاص طور په ځلمي ګُل کښې چې نيکان ميلاؤ شي، ډيره ګرانه خبره ده. داسې نه ده چې نيکان خلق په دنيا کښې هډو شته نه، ګرانه دا ده چې ميلاويږي ډير په ګرانه.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! دا هم د دعوتِ اسلامي کارنامه ده چې نيک صحبت ورکول ئې آسان کړي دي. د نن نه تقريباً 41 کاله مخکښې يو مردِ قلندر راپاڅيدلے وو، هغوئې د نيکئ دعوت عام کول شروع کړل، د ډيوو نه ئې ډيوې بلې کړې، نن اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! په ټوله دنيا کښې په لکونو، کروړونو عاشقانِ رسول موجود دي.

اکیلا ہی چلا تھا جانِبِ مَنزِل مگر | اِک اِک آتا گیا کارواں بنتا گیا

که تاسو ته نيکان دوستان پکار وي! نو فيضانِ مدينه ته تشريف راوړئ! نيک لمونځ کوونکي به ميلاؤ شي، په کوڅه کوڅه، ښار ښار کښې عاشقانِ رسول موجود دي، که چرې بالفرض تاسو ته په يو ځائے کښې د عاشقانِ رسول صحبت ميلاؤ نه شي

1...كشف المحجوب مترجم، صفحه:499بتغير۔

نو په کور کښې مدني چينل اولګوئ! نيک صحبت به ميلاؤ شي.

مَدنی چینل تم کو گھر بیٹھے سکھائے گا نَماز　　اور نَمازی دونوں عالم میں رہے گا سرفراز
مَدنی چینل میں نبی کی سنتوں کی دھوم ہے　　اور شیطانِ لعیں رَنجُور ہے مغموم ہے
مَدنی چینل حُبِّ احمد میں رُلاتا ہے تمہیں　　اور نشہ عشقِ مُحَمَّد کا چڑھاتا ہے تمہیں

## د دعوتِ اسلامي د ورځې عظمت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! سبا په 2 ستمبر د دعوتِ اسلامي ورځ ده، په 2 ستمبر کال 1981ء دعوتِ اسلامي شروع کړے شوه، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په 41 کاله موده کښې چې څومره غټې کارنامې کړې دي، د هغې بيان په لنډ وخت کښې نشي کيدے، سبا د دعوتِ اسلامي د ورځې په موقع باندې د مدني چينل خصوصي خپروني ( ***Special Transmission***) اوګورئ! تاسو ته به معلومه شي چې ستاسو دعوتِ اسلامي په کوم کوم انداز کښې په ټوله دنيا کښې د دين په خدمت کولو کښې مصروفه ده.

الله پاک دې دعوتِ اسلامي ته نوره هم ترقي عطا کړي، په دعوتِ اسلامي باندې او په دعوتِ اسلامي والوؤ باندې، خاص طور په بانئ دعوتِ اسلامي شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه باندې دې په کروړونو رحمتونه نازِل کړي. بے شکه په دې دور کښې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول د الله پاک يو لوئې نعمت دے، په دې چې څومره شکر ادا کړے شي کم دے، سبا د دعوتِ اسلامي د ورځې په موقع باندې د شکراني نفلونه ادا کړئ! بلکه څومره به ښه وي چې مونږه د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول بيامونددو په شکرانه کښې د مدني قافلو مُسافر جوړ شو، سُنَّت زده کړو او د

نيکۍ دعوت عام کولو کښې د دعوتِ اسلامي څه نه څه ملاتړ اوکړو. الله پاک دې مونږه ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي ژوند بدلوونکے تحريک دے، تاسو هم د عاشقانِ رسول د ديني تحريک لمن اونيسئ، د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره فائدې به مو نصيب شي، د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار علاقائي دوره هم ده. راځئ د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو!

## غير مسلمه مسلمان شو

د پنجاب د يو مبلغِ دعوتِ اسلامي بيان دے، يوه ورځ زمونږ ځائے ته مدني قافلې تشريف راوړو، د مدني قافلې والوؤ سره په شريکه ما ته هم په علاقائي دوره کښې د شرکت کولو شَرف ميلاؤ شو، مونږ د يو درزي د دکان نه بهر خلق راجمع کړل او د نيکۍ دعوت مو ورکولو، چې کله بيان ختم شو نو د هغه دکان يو ځلمي ملازم اووئيل: زه **غير مسلمه يم.** ستاسو د نيکۍ دعوت زما په زړه ډير غټ اثر اوکړو، **مهرباني اوکړئ ما په اسلام کښې داخل کړئ. بيا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! هغه کلمه اووئيله او مسلمان شو.**

مقبول جہاں بھر میں، ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے رَبِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! اوسنے دور د ټيکنالوجۍ دور دے، په مونږ کښې کيدے شي د هر يو

سره اينډ رائډ (***Android***) يا آئي فون وي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د اِسمَارټ فون (***Smartphone***) په ذريعه هم د عِلمِ دين خپرولو کوشش کوي. دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د ***IT*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Muslim's Funeral***. په دې موبائل ايپلي کيشن کښې مړي ته د غُسل او کفن او دفن وغيره په بابله اهم ترين معلومات ورکړے شوي دي او يوه خاص خبره دا ده چې مَړي له غُسل څنګه ورکولے شي؟ کفن ورته څنګه اَغوستلے شي؟ د دې د عملي طريقې د پاره ***Animated Videos*** هم شاملې دي.




تاسو هم دا موبائل ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د څينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىْ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د

سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سينه تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب        صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## کمې خبرې کول سُنَّتِ مصطفٰے دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1):** د انسان په خاموشئ باندې قائم پاتې کيدل د 60 کاله عبادت نه بهتر دي[2] **(2):** خاموشي د اعلىٰ درجې عبادت دے.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! کمې خبرې کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوږدې خاموشئ والا وو[4] ❁ هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير د خلقو سره خبرې نه کولې، د هند بن ابو هاله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيان دے چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير خبرې نه کولې بلکه اکثر به خاموشه پاتې کيدلو[5] د خاموشئ نه مراد دے: د دنيا د کلام (يعني خبرو کولو) نه خاموشي ګڼې نو د حضورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه به د الله

1...مشکوٰة، کتابُ الْاِيمان، بابُ الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

2...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: حفظ اللسان، جلد:4، صفحه:245، حديث:4953۔

3...مسند فردوس، جلد:2، صفحه:417، حديث:3849۔

4...شرح السنه للبغوی، جلد:7، صفحه:450، حديث:3695۔

5...شمائل ترمذی، صفحه:353، حديث:225۔

پاک په ذِکر باندې لمده اوسيدله [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❀ خاموشي حکمت دے ❀ د کمو خبرو سره عقل کامل (يعني پوره) وي ❀ کمې خبرې کول د عبادت چابي ده ❀ د کمو خبرو کولو سره د عبادت خوند نصيب کيږي ❀ د کمو خبرو کولو سره عزت، وقار او علم زياتيږي ❀ څوک چې د ضرورت نه بغير د خبرو کولو نه ځان بچ کړي، هغه په شيطان غالب اوسي.

الله پاک دې مونږ ته هم د کمو خبرو کولو، صرف د ضرورت خبرې د خُلې نه د ويستو او د فضول خبرو نه د بچ کيدو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| يا ربّ نہ ضرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں | اللہ زباں کا ہو عطا قفلِ مدينہ |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه **مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَ الله سربسر |
| جو بھی شیدائی ہے مدنی قافلوں کا یاخدا! | دوجہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا! |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب		صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:81۔